(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شاعر پسرلی

## یا نوی گل

لکه څرنگه چه په ناغوړېدلی غوټۍ کښې رنگ او بوی پټ دی همداسې
په هر زړه کښې ډېرې نیمگړې آرزوگانې او نیمه خوا ارمانونه شته .
او لکه څرنگه چه د وږمې په سحر د غوټۍ د مخ حجاب او پرده لکه
د ښاپېریانو په قلمرو کښې د زړو طلسم په څېرمات او بېرته‌شی، همداسې دالهام
د جذبې او د دردونو د سوزو گداز په واسطه د شاعر د باطنی آرزوگانو
اومفکورې له‌مخې‌پرده‌لېرې‌کیږی‌اوشعر په ژبه دده‌آرزوگانومعما تفسیرېږی
د شاعر د زخمی زړه د داغونوپه‌گلخانه کښې د ننه د آرزوگانو غوټۍ‌هم وده
وکړه ، دا غوټۍ خو ځکه د مجهولو او مرموزو آرزوگانو معما ده چه د یوه
رنځور شاعر د درد مند اوغمناك ژوند خزان کښې د آه او اوسېلیو د نسیم
په چلېد و د نوی گل پشان غوړېدلی او د ځلمیټوب‌په تودو وینواو ښکو
اوبه شوې ده .

دا نوی‌گل معنوی‌گل دی . د دې گل‌بلبل شاعر، باغ د شاعرزړه‌اومالیار
د شاعر پاکې آرزوگانې دی .

که څه هم‌داگل ظاهری رنگ وبوی او د صورت ښکلا ر نلر ی خود سیرت
ښکلا اوعطر پکښې شته .

د دې گل ټنکی‌پاڼه ظاهراً د ښکلو ناز کو بار خوگانو پشان رنگینه ده
خو په باطن کښې د درد مند شاعر دزېړې ښې‌اود بېوزلوخوارانو دابتروخېرو
او د یتیمانودخپړو ځپلومخونو هنداره ده .

داگل کله کله د شړشم دگلو پشان د بېوزلو تیارې خونې‌روڼې‌کوی یادشهیددقبر
سر ته دلاله د څراغ په څېرسوزی .

او کله‌کله داگلان د جنتی‌شانتې هېواد دوچو میرواو دښتونود تورو خاورو په
غېږ کښې ، د لاجورد دتك شین آسمان دلاندې د زمردو په شنو شنو چمنونو
کښې د سرو زرو د زېړ وگلونو په رنگ یا د لعل او یا قوت دغا ټول پشان
را شنه کېږی اودنا پوهی‌اوبېکاری او یا د بېوسیلگی په تورتم‌کښې زمونږد
حیات په اوبو وده‌کوی .

هو! د دې نوی‌گل معجزه خو داده چه که څه هم یو گل دی خو ډېر رنگونه

# بن

گـلالـي شـود گلانو پهگلزار بڼ
ښکـلي شوي دخوبـانـو په انوار بڼ

د گـلانـو بـوټو څانګو پاڼو ونو
لري ښې ښې منظرې پههر کنار بڼ

د شيد وغوند ې رواني او به سپيني
د الماس او درقطرې لري آبشار بڼ

بيا دزړ اوسپين گلانوموج طوفانشو
هر طرف لري د سرو گلو قطا ر بڼ

ترا نو ا و ز مز مو خـوږو نغمونه
بيا ډك شوي د مرغانوپه چيغار بڼ

دخوشبوگلانو بوي چه ترسوزموشي
سلبو ي له هر يوچا ځيني اختيار بڼ

په غاړه ورځي دڅانګوسره څانګې
چه رسېږي پېغلتوب ته د ا نار بـڼ

د گـلا نو ا مېلو نه په لمـن کـښې
د خـوبـانو تما شوته ا نتظـا ر بـڼ

دليدوشوق کښې بههر گوره حيرانشې
د قدرت په لاس ښايسته شود بهار بڼ

په جمال د طبيعت کښې محوه شوي
په ارمان د تما شو کـړمه د چار بڼ

ننداروله يې هرڅوك هيله من دي
لري ځکه په ز رگـونو خريدار بڼ

د خوبانو په جفا کښې ځگرخون شوم
پهگوگل کښې مې لر مه دا غدار بڼ

زما لاسونو پښو کښې د پراغزی دی تللی
د پراغزی ما په اغزیو دی اپستلی
بارانو نو د پر ژړلی دی صحرا کښې
ما ځوځان اغزی رپیلی دی بېدیا کښې
چه یاد پزی مې د اوچ او شاړ د اگونه
د غاټول پشان مې زړه لړی داغونه
د خوښی سروغمونه شته هر ځای کښې
هم خندا ځانته ژړا لری په پای کښې
د آبشار و فوارو فریاد ژړا ده
دغوټی د خوښی ژوندیوه خندا ده
ما لیدلی دی رنگین ښایسته گلونه
د خوبانو په اور بل ټټر لاسونه
مستی پیغلی گرځیدې به په هر بڼ کښې
مینان به غېږ په غېږ و په چمن کښې
گلو لاندې به ویدې وې نجونې ځوانی
په سینو به یې د پرې د گلو پانی
اندامونه مې خنا رغوندې لړز یږی
د شبنم په څیر مې اوښکې را توییږی
ضعیف شوی نور دسترگو کم مې زور دی
په څراغ د زړه کښې بل د مینې اور دی
د سپین گل پشان مې زیره شوله سپینه
خوځو انی زما پس ته پس ته مینه
پسرلی کښې (فنا) شین بڼ او بوستان دی
پرما واوره اوری عمر مې خزان دی

